# دافغانستان اسلامی جمهوریت

## دعدلیی وزارت

# رسمی جریده

- د افغانستان دسوداگری اوصنایعودخونی قانون
- قانون اتاق تجارت وصنایع افغانستان
- د حــق الــعبو دمــحــصــول قــانــون
- قــانــون محصــول حــق العبــور

دخپریدو نیټه د ۱۳۹۱هـ ش کال د لړم دمیاشتی (۲۲) پرله پسی نمبر (۱۰۹۱)

تاریخ نشر : ( ۲۲)عقرب سال ۱۳۹۱ هـ. ش نمبرمسلسل (۱۰۹۱)

## در این شماره :

۱. قانون اتاق تجارت وصنایع افغانستان صفحه (۱–۱۷).

۲. قانون محصول حق العبور صفحه (۱۸– ۲۲)

**د امتیاز خاوند : دعدلیی وزارت**

مسؤل چلوونکی : قانونمل محمدرحیم :دقیق:

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

ددفتر تیلفون : ۲۱۰۳۳۷۵

مرستیال : نور علم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

مهتمم: محمدجان ۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲

ویب سایت : www.moj.gov.af

**قیمت این شماره : ......................... . .. ........(۴۰) افغانی**

**تیراژ چاپ اول :............................ . . ........(۴۰۰۰)جلد**

**آدرس :وزارت عدلیه ، ریاست نشرات ، چهارراهی پشتونستان ، کابل**

## دافغانستان دسوداګرۍ او صنايعو دخونو دقانون دتوشيح په هکله، دافغانستان اسلامي جمهوريت درئيس فرمان

ګڼه : (۸۳)

نېټه : ۱۳۹۱/۷/۲٦

لومړۍ ماده :

د افغانستان د اساسي قانون د (٦۴) مادې د (١٦) فقرې د حکم له مخې، د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو د خونو قانون چې د ملي شوري د ګډ هيئت د ۱۳۹۱/۱/۲٦ نېټې (۳۰) ګڼې پرېکړې په لړکې په (۴) فصلونو او (۱۷) مادوکې فيصله شوی، توشېح کوم.

دوه يمه ماده :

دغه فرمان له قانون او د ملي شوري د مجلسينو د ګډ هيئت له پرېکړې

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح، قانون اتاق تجارت وصنايع افغانستان

شماره : (۸۳)

تاريخ : ۱۳۹۱/۷/۲٦

مادۀ اول :

به تأسی ازحکم فقرۀ (١٦) مادۀ (٦۴) قانون اساسی افغانستان، قانون اتاق تجارت و صنايع افغانستان را که طی فيصلۀ شماره (۳۰) مؤرخ ۱۳۹۱/۱/۲٦ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی به داخل (۴) فصل و (۱۷) ماده به تصويب رسيده، توشيح می دارم.

مادۀ دوم :

اين فرمان همراه با قانون وفيصلۀ هيئت مختلط مجلسين شورای

سره يوځای، له خپرېدو وروسته په رسمي جريده کې نافذېږي.

حامد کرزی

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

ملی بعد از نشردرجریدۀ رسمی نافذ می گردد.

حامد کرزی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

دافغانستان اسلامي جمهوريت

ملي شوري

فيصله

دافغانستان دسوداګرۍ او صنايعو د خونې قانون

پرله پسې ګڼه : (۳۰)

دفيصلې نېټه :۱۳۹۱/۱/۲۶

دافغانستان داساسي قانون دسلمې مادې له درج شوي حکم سره سم، دملي شوري د دواړو غونډو له څلور څلور غړو څخه جوړ شوی ګډ هيئت د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو د خونې قانون په څلورو فصلونو او اووه لس مادوکې له يوشمير تعديلونو او ايزاد سره د ۱۳۹۱کال د وري دمياشتې په شپږويشتمه نېټه فيصله کړ.

دګډ هيئت رئيس

رمضان جمعه زاده

دګډ هيئت مرستيال

مولوی عبدالوهاب عرفان

جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

فيصله

قانون اتاق تجارت و صنايع افغانستان

شمارۀ مسلسل : (۳۰)

تاريخ فيصله : ۱۳۹۱/۱/۲۶

به تأسی ازحکم مندرج مادۀ صدم قانون اساسی افغانستان، هيئت مختلط مجلسين شورای ملی مرکب ازچهار چهار نفراز اعضای هر جرگه قانون اتاق تجارت وصنايع افغانستان را به داخل چهارفصل وهفده ماده توأم با يک سلسله تعديلات و ايزاد به تاريخ بيست وششم ماه حمل سال ۱۳۹۱ فيصله نمود.

رئيس هيئت مختلط

رمضان جمعه زاده

معاون هيئت مختلط

مولوی عبدالوهاب عرفان

# فهرست مندرجات

## قانون اتاق تجارت وصنایع افغانستان

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادۀ اول: | مبنی وهدف | ۱ |
| مادۀ دوم: | ایجاد اتاق تجارت وصنایع افغانستان | ۲ |
| مادۀ سوم: | نام اختصاری | ۲ |
| مادۀ چهارم: | شخصیت | ۳ |
| مادۀ پنجم : | کسب عضویت | ۳ |
| مادۀ ششم: | مقر | ۴ |
| مادۀ هفتم: | اصطلاحات | ۴ |


## فصل دوم

## وظایف وصلاحیت های اتاق


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادۀ هشتم: | وظایف وصلاحیت ها | ۵ |
| مادۀ نهم: | ساختارتشکیلاتی اتاق | ۱۰ |
| مادۀ دهم: | منابع تمویل وامور مالی وحسابی | ۱۱ |
| مادۀ یازدهم: | انتخابات | ۱۲ |

## فصل سوم

## ثبت انجمن ها واتحادیه های سکتوری

مادۀ دوازدهم: ثبت. ............................. ...... ...... ..................۱۴
مادۀ سیزدهم: درخواست ثبت.............................. ...... ...... ..........۱۵
مادۀ چهاردهم: حالات بی اعتبار شدن سند ثبت............... ...... ...... ........۱۶

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

مادۀ پانزدهم: وضع طرزالعمل ها ولوایح....................... ...... ...... .......۱۶
مادۀ شانزدهم: عدم فروش ملکیت......................... ...... ...... ..........۱۷
مادۀ هفدهم : انفاذ......................................... ...... ...... ..........۱۷

## دافغانستان دسوداګرۍ او صنايعو دخونې قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني او موخه**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د لسمي، يوولسمې او ديارلسمې مادي د حکمونو په رڼا کې، د لاندي موخو د پلي کېدو په منظور، وضع شوی دی:

۱- د خصوصي سکتور د متشبثينو له حقوقو څخه ملاتړ.

۲- دسوداګرۍ، کرنې او صنعت په برخوکې دخصوصي سکتور ملاتړ، وده او پراختيا اودکانونو، خدماتو او صنفي فعاليتونو او نورو اقتصادي تشبثاتو په برخه کې پانګه اچونه.

۳- د هېواد په کچه د انفرادي، شرکتي، انجمني، اتحاديوي او کوپراتيفي جواز لرونکو د

## قانون اتاق تجارت وصنايع افغانستان

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی و هدف**

**مادۀ اول :**

اين قانون در روشنی احکام مواد دهم، يازدهم و سيزدهم قانون اساسی افغانستان، به منظور تحقق اهداف ذيل وضع گرديده است:

۱- حمايت ازحقوق متشبثين سکتور خصوصی .

۲- حمايت، رشد وانکشاف سکتور خصوصی در زمينه های تجارت، زراعت وصنعت و سرمايه گذاری دربخش معادن، خدمات و فعاليت های صنفی وساير تشبثات اقتصادی.

۳- انسجام وهمآهنگی فعاليت های تجارتی، صنعتی، زراعتی ، معادن، خدماتی و تشبثات صنفی دارای

سوداګريز، صنعتي، کرنيز، کــانونو، خدماتي او صنفي تشبثاتو د فعاليتونو سمون او همغږي.

۴- دخصوصي سکتور د متـشبثينو اقتصادي وده او پراختيا په ملـي او بين المللي کچه د هغه ملاتـړ.

**د افغانــستان د ســوداګرۍ او صنايعو د خونې جوړېدل**

**دوه يمه ماده:**

ددې قانون په لومړۍ مـاده کـې د درج شوو موخو د پلي کيدو او د هغو اړوندوفعاليتونو د سمون په منظور، د افغانستان د سوداګرۍ او صـنايعو خونه جوړېږي.

**لنډ نوم**

**درېيمه ماده:**

د افغانستان د سوداګرۍ او صـنايعو خونه تر دې وروسته پدې قانون کې د (خونې) په نامه يادېږي.

جواز انفرادی ، شرکتی ، انجمنی ، اتحاديوی وکــوپراتيفی در ســطح کشور.

۴- رشــد وانکــشاف اقتــصادی متشبثين سکتورخصوصی و حمايت آن درسطح ملی وبين المللی.

**ايجاد اتاق تجــارت وصــنايع افغانستان**

**مادۀ دوم :**

به منظور تحقق اهــداف منــدرج مادۀ اول ايــن قــانون وانــسجام فعاليت هــای مربــوط آن، اتــاق تجارت و صنايع افغانستان ايجــاد می گردد.

**نام اختصاری**

**مادۀ سوم :**

اتاق تجارت وصنايع افغانستان منبعد در اين قانون بنام (اتاق) يــاد مــی گردد.

شخصيت

 څلورمه ماده:

خونه دخپلواک حکمي، غير حکومتي، غير سياسي او غير انتفاعي شخصيت لرونکې ده او دسوداګرۍ او صنايعو له وزارت او نورو اړوندو وزارتونو او ادارو سره په همکارۍ کې فعاليت کوي.

د غړيتوب ترلاسه کول

پنځمه ماده:

۱- متشبثين کولی شي دسوداګريز، صنعتي، کاني، کرنيز، خدماتي او صنفي جواز په لرلو سره د خونې غړيتوب ترلاسه کړي.

۲- انجمنونه، اتحاديې، کوپراتيفونه او نور اقتصادي بنسټونه چې د سوداګرۍ، صنعت، کرنې، کانونو، خدماتو او صنفي تشبثاتو په برخوکې فعاليت لري او د جواز لرونکي دي، کولی شي د قانون او اړوندې اساسنامې د حکمونو مطابق په داوطلبانه توګه د خونې غړيتوب

شخصيت

مادۀ چهارم:

اتاق دارای شخصيت حکمی مستقل، غير حکومتی، غير سياسی وغير انتفاعی بوده که درهمکاری با وزارت تجارت وصنايع وساير وزارت ها و ادارات ذيربط فعاليت می نمايد.

کسب عضويت

مادۀ پنجم:

۱- متشبثين با داشتن جواز تجارتی، صنعتی، معدنی ، زراعتی ، صنفی وخدماتی می توانند، عضويت اتاق را حاصل نمايند .

۲- انجمن ها، اتحاديه ها، کوپراتيف ها و ساير نهاد های اقتصادی که در زمينه های تجارت ، صنعت، زراعت، معادن، خدمات و تشبثات صنفی فعاليت دارند و دارای جواز می باشند، مطابق احکام قانون و اساسنامۀ مربوط به صورت داوطلبانه می توانند عضويت اتاق را

ترلاسه کړي.

## ځای

**شپږمه ماده:**

دخونې مرکزي دفتر دکابل په ښارکې موقعيت لري او نمايندګۍ يې په ولايتونو او بهرنيو هېوادونوکې، عندالضرورت جوړېږي.

## اصطلاحګانې

**اوومه ماده:**

پدې قانون کې لاندې اصطلاحګانې، دغه مفاهيم افاده کوي:

۱- متشبث: هغه حقيقي او حکمي شخصيت دی چې د قانون د حکمونو مطابق سوداګريز، صنعتي، کرنيز، کاني، خدماتي او صنفي فعاليتونه ترسره کوي او د اړوند فعاليت د جواز لرونکی دی.

۲- ګډه سوداګري خونه: هغه حکمي شخصيت دی چې د دې خونې او د نورو هېوادونو د سوداګرۍ د خونو ترمنځ د توافق پر بنسټ په مختلفو ډګرونو او د ګډو

حاصل نمايند.

## مقر

**مادۀ ششم:**

دفتر مرکزی اتاق در شهر کابل موقعيت داشته ونمايندگی های آن در ولايات وکشورهای خارجی عندالضرورت ايجاد می گردد.

## اصطلاحات

**مادۀ هفتم:**

اصطلاحات آتی در اين قانون مفاهيم ذيل را افاده می نمايند:

۱- متشبث: شخصيت حقيقی وحکمی است که مطابق به احکام قانون فعاليت های تجارتی، صنعتی، زراعتی، معدنی، خدماتی و صنفی را انجام می دهد وجواز فعاليت مربوط را دارا می باشد.

۲- اتاق تجارت مشترک:شخصيت حکمی می باشد که به اساس توافق ميان اين اتاق و اتاق های تجارت ساير کشور ها به خاطر گسترش مناسبات اقتصادی

منافعو پر مبنا د اقتصادي اړيکو د پراختيا لپاره جوړېږي.

۳- انجمنونه، اتحاديې او اقتصادي کوپراتيفونه: هغه حکمي او غير انتفاعي شخصيتونه دي چې د سوداګرۍ، صنعت، کرنې، کانونو او خدماتو په برخو کې فعاليت لري، له اړوند صنف څخه استازيتوب کوي اوغړي يې دانتفاعي فعاليتونو لرونکي دي.

## دوه يم فصل

## د خونې دندې او واکونه

دندې او واکونه

اتمه ماده:

خونه د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱- له دولت سره په تفاهم کې د خصوصي سکتور پر وړاندې د پرتو ستونزو دله منځه وړلو او دخودکفايي، دکار دځای د رامنځته کولو او د اقتصاد دودې لپاره د سوداګرۍ، صنعت، کرنې، کانونو،

در عرصه های مختلف و برمبنای منافع مشترک ایجاد می گردد.

۳- انجمن ها، اتحادیه ها و کوپراتیف های اقتصادی: شخصیت های حکمی وغیر انتفاعی اند که دربخش تجارت، صنعت، زراعت، معادن و خدمات فعالیت داشته، از صنف مربوط نمایندگی می نماید و اعضای آن دارای فعالیت های انتفاعی می باشند.

## فصل دوم

## وظایف وصلاحیت های اتاق

وظایف وصلاحیت ها

مادۀ هشتم :

اتاق دارای وظایف وصلاحیت های ذیل می باشد :

۱- انسجام وهم آهنگی فعالیت های سکتورخصوصی درعرصه های تجارت، صنعت، زراعت، معادن، خدمات و تشبثات صنفی اعم از انفرادی و جمعی در جهت رشد اقتصاد، ایجاد محل

خدماتو او انفرادي او جمعي صنفي تشبثاتو په برخو کې د فعالیتونو انسجام او همغږي.

۲- د غوښتنې په صورت کې دولتي واکمنو مراجعو ته د اقتصادي او تخنیکي مشورو وړاندې کول.

۳- دملي اقتصاد دلومړیتوبونو په توګه د کورنیو او بهرنیو پانګو اچونو هڅونه، جلب او ملا تړ او په افغانستان کې د دولت او نړیوالې تولنې د پانګې اچونې د ملا تړ د ترلاسه کولو لپاره د زمینې برابرول.

۴- د هېواد په کچه د صادراتو د هڅونې او پرمختیا لپاره د اغېزمنو وړاندیزونو وړاندې کول او د لازمو تصمیمونو نیول.

۵- د کورنیو تولیداتو د کیفیت په هکله د مصرف کوونکو د خبرولو لپاره د اړوندې خپرونې له لارې اشتهار او تبلیغ کول.

۶- د بهرنیو هېوادونو د سوداګرۍ او صنایعو د خونو د نړیوالو فدراسیونونو له لارې له افغاني

کار، خودکفایی و رفع موانع رشد فرا راه سکتور خصوصی در تفاهم با دولت.

۲- ارایهٔ مشوره های اقتصادی وتخنیکی به مراجع ذیصلاح دولتی عندالتقاضا.

۳-تشویق، جلب و حمایت از سرمایه گذاری های داخلی و خارجی در اولویت های اقتصاد ملی و زمینه سازی برای کسب حمایت دولت و جامعهٔ بین المللی از سرمایه گذاری در افغانستان.

۴- ارایهٔ پیشنهادات مؤثر و اتخاذ تصامیم لازم جهت تشویق وانکشاف صادرات در سطح کشور.

۵- اشتهار وتبلیغ دربارهٔ کیفیت تولیدات داخلی غرض آگاهی مصرف کننده گان از طریق نشریهٔ مربوط.

۶- ارایهٔ معلومات درمورد اعتبار، توانائی وحسن معاملهٔ تجار و شرکت های خارجی

شرکتونو سره د سوداګرۍ په معامله کې طرف د بهرنيو سوداګرو او شرکتونو د اعتبار، ځواکمنۍ او نيکې معاملې په هکله اويائی په عکس دمعلوماتو وړاندې کول.

۷–دارتياپه صورت کې د سوداګريزو او بين المللي معاملو له نورو سندونو سره د وارداتي بيجکونو(Invoice )تصديق کول.

۸– دصادراتی مالونو د مبدأ تصديق ليک صادرول (Certificate of origin).

۹– د صادراتي بيجکونو ترتيبول او ثبتول.

۱۰– د قانون د حکمونو په حدودو کې د کورنيو او بهرنيو حقيقي او حکمي اشخاصو ترمنځ له سوداګريزو او صنعتي معاملو څخه د راپيدا شووشخړو په هکله حکميت کول.

۱۱– د اړتيا په صورت کې د مالیې، سوداګرۍ او صنايعو وزارتونو او خونې د استازو په

طرف معاملهٔ تجارت با شرکت های افغانی ازطريق فدراسيون های بين المللی اتاقهای تجارت و صنايع کشورهای خارجی و عکس آن.

۷– درصورت ضرورت تصديق بيجک های وارداتی (Invoice) با ساير اسناد معاملات تجارتی و بين المللی .

۸–صدورتصديق نامهٔ مبدأ اموال صادراتی (Certificate of origin) .

۹– ترتيب وثبت بيجک های صادراتی .

۱۰– حکميت پيرامون اختلافات ناشی از معاملات تجارتی وصنعتی ميان اشخاص حقيقی وحکمی داخلی و خارجی درحدود احکام قانون.

۱۱–درصورت ضرورت بررسی قيمت های بيجک های وارداتی و تعيين قيمت های کنترولی اموال

ګڼون، د وارداتي بيجکونو دبيو څېړل او د ګمرکي مالونو د ترخيص لپاره د وارداتي مالونو د کنترولي بيو ټاکل.

۱۲- د سکتوري انجمنونو او اتحاديو ثبتول.

۱۳- د هېواد په دننه او بهر کې د کورنيو محصولاتو او توليداتو د پېژند ګلوۍ په منظور د ننندارتونونو دايرول.

۱۴- د کورنيو او بهرنيوشرکتونو او سوداګرو په هکله د معلوماتي مرکز (ديتابېس) جوړول.

۱۵- د توليد، صادراتو او د دايمي کار ځای د رامنځته کولو په برخوکې معقولې ودې ته د رسېدنې داغېز ناکو لارو د پېژندنې په موخه د ملي اقتصاد په بېلابېلو برخوکې د علمي مطالعاتو او تدقيق د مرکز رامنځته کول.

۱٦- په بېلابېلو برخو کې د اقتصادي پاليسيو طرحکول او تدوينول چې په هېواد کې د ناخالص

وارداتی جهت ترخیص گمرکی اموال به اشتراک نمایندگان وزارت های مالیه وتجارت وصنایع و اتاق.

۱۲- ثبت انجمن ها واتحادیه های سکتوری.

۱۳- تدویر نمایشگاه ها به منظور معرفی محصولات و تولیدات داخلی درداخل وخارج کشور.

۱۴- ایجاد مرکزمعلوماتی (دیتابیس) درمورد شرکت ها وتجار داخلی وخارجی.

۱۵- ایجاد مرکز تدقیق و مطالعات علمی در عرصه های مختلف اقتصاد ملی به منظور شناخت راه های مؤثر رسیدن به رشد معقول در عرصه های تولید، صادرات و ایجاد محل کار دایمی.

۱٦- طرح و تدوین پالیسی های اقتصادی در عرصه های مختلف که موجب رشد تولید

ملي توليد سرانه عايد او د لوړې د له منځه وړلو د ودې، او د سوداګرۍ صنعت، کرنې او د کانونو د ايستلو او چاڼ د پرمختيا او دکسبونو د پراختيا لامل وګرځي.

۱۷- په مرکز او ولايتونوکې د متشبثينو لپاره د شونتياوو په حدودوکې دکنفرانسونو،سيمينارونو او د لومړنۍ او اړتيا وړ زده کړې د پروګرامونو داېرول.

۱۸- له اړوندو دولتي ادارو څخه د انتفاعي فعاليت جواز داخيستلو او ثبت په خاطر دسوداګرو، شرکتونو او اتحاديو لارښوونه.

## د خوني تشکيلاتي جوړښت

نهمه ماده:

۱- خونه د عالي شوري ، مديره هيئت، اجرائيه کميټې، د ولايتونو د خونو د مديره هيئت او نظار هيئت څخه جوړه ده چې د هغوی تشکيل ، دندې او واکونه په اړونده اساسنامه کې اټکل کېږي .

ناخالص ملی ، عايد سرانه و فقرزدائی و رونق تجارت، صنعت، زراعت و استخراج و پروسس معادن و انکشاف پيشه وری در کشور گردد.

۱۷- تدوير کنفرانس ها ، سيمينارها وپروگرام های آموزشی اوليه ومورد نياز درحدود امکانات برای متشبثين درمرکز و ولايات.

۱۸- رهنمائی تجار، شرکت ها و اتحاديه ها به منظور ثبت واخذ جواز فعاليت انتفاعی از ادارات دولتی ذيربط.

## ساختارتشکيلاتی اتاق

مادۀ نهم :

۱- اتاق متشکل از شورای عالی، هيئت مديره، کميتۀ اجرائيه ، هيئت مديرۀ اتاق های ولايات و هيئت نظار می باشد که تشکيل ، وظايف وصلاحيت های آنها در اساسنامۀ مربوط پيشبينی می گردد.

۲- عامل رئيس چې د مديره هيئت لخوا د يوې رقابتي پروسې له لارې استخدامېږي، د خونې ورځنۍ چارې په غاړه لري، مديره هيئت او اجرائيه کميټې ته مسئول دی. عامل رئيس د خونې د عالي شورې، مديره هيئت او اجرائيه کميټې په غونډوکې د رأيو د حق نه پرته ګډون کولی شي.

عامل رئيس بايد لږترلږه ليسانس وي.

**د تمويل سرچينې اومالي او حسابي چارې**

**لسمه ماده:**

(۱)خونه له لاندې مالي سرچينو څخه تمويلېږي:

۱- حق العضويتونه.

۲- حق العملونه.

۳- د خونې له جايدادونو او شتمنيو څخه لاسته راغلي عوايد.

۴- د قانون د حکمونو مطابق، د کورنيو او بهرنيو حقيقي او حکمي

۲- رئيس عامل که در يک پروسهٔ رقابتی از جانب هيئت مديره استخدام می گردد، امور روزمرهٔ اتاق را به عهده داشته، نزد هيئت مديره و کميتهٔ اجرائيه مسئول می باشد. رئيس عامل در جلسات شورای عالی ، هيئت مديره و کميتهٔ اجرائيهٔ اتاق بدون حق رأی اشتراک کرده می تواند.

رئيس عامل بايد حداقل لسانس باشد.

**منابع تمويل و امور مالی و حسابی**

**مادهٔ دهم:**

(۱) اتاق از منابع مالی ذيل تمويل می گردد :

۱- حق العضويت ها .

۲- حق العمل ها.

۳- عوايد حاصله از جايداد ها و دارائی های اتاق.

۴- هدايا و معاونت های مشروع اشخاص حقيقی وحکمی اعم از

اشخاصو مشروع ډالۍ (هـديې) او مرستې.

(۲) دخونې مالي او حسابي چـارې چې په عادي توګه د مديره هيئـت لخوا څارل کيږي، عندالضرورت د نظار هيئت د لزوم ديـد او مـديره هيئت د تأييد پر بنسټ کيدای شي د حسابداری د بـې پلـوه نړيوالـو خصوصي مؤسسو لخوا له نړيوالـو معيارونو سره سم بررسي او وڅېړل شي.

(۳) دخـونې سـندونه او مـالي اوحسابي دفترونه د کورنيو قوانينـو مطابق له بين المللي منل شوو حسابي معيارونو سره سم ترتيب، خوندي او ساتل کېږي.

<u>ټاکنې</u>

**يوولسمه ماده:**

(۱) د ولايتي خونو د مديره هيئـت غړي د آزادو، پټو، مستقيمو اورڼـو ټاکنوله لاري په هرو درې کلونوکې د غړو دشمير په تناسب په هر ولايت

داخلی وخـارجی طبـق احکـام قانون.

(۲) امور مالی و حسابی اتاق که به صورت عادی از جانب هیئت مدیره مراقبت می گردد، عندالضرورت بر اساس لزوم دید هیئت نظار و تأییـد هیئت مدیره مـی توانـد توسـط مؤسسات خصوصی بی طرف بـین المللی حسابداری مبتنی بر معیـار های قبول شده جهـانی بررسـی و تدقیق گردد.

(۳) اسناد ودفاتر مالی وحـسابی اتاق مطابق قوانین داخلی با معیـار های قبول شدهٔ حسابی بین المللـی ترتیب، حفـظ ونگهـداری مـی گردد.

<u>انتخابات</u>

**مادهٔ یازدهم:**

(۱) اعضای هیئت مدیرهٔ اتاق های ولایتی از طریـق انتخابـات آزاد، سری ، مستقیم و شفاف در هر سه سال متناسب به تعداد اعضاء در هر

کې ټاکل کېږي.
دټولو ولايتونو دمديره هيئت د غــړو مجموع، دخــونې عــالي شــوري جوړوي.
(۲) د خونې د مديره هيئت غــړي چې شمېريې ۲۱ نفره دي، د آزادو ، پټو، مستقيمو اورڼو ټاکنو له لارې د عالي شوري له منځه د عالي شوري د غـــړو لخـــوا د درې کلونـــو لپاره ټاکل کېږي.
(۳) دخونې د مديره هيئت رئيس، مرستيالان، د دارالانشاء مــسئول او مالي مسئول د مديره هيئت د غړوله منځه د آزادو، پټو، مستقيمو اورڼــو ټاکنو له لارې دمديره هيئت لخوا د دريوکلونو لپاره ټاکل کېږي. د پورته ټاکل شوو اشخاصو څخه د خــونې اجرائيه کميټه جوړېږي، چې د مديره هيئت د دوو جلسو په واټن کـــې د خونې چارې رهبري کوي.
(۴) هغه فعال سوداګريز شــرکتونه چې د سوداګرۍ او صـــنايعو وزارت او دافغانستان د پانګې اچونې څخه د

ولايت انتخاب می گردند.
مجموع اعضای هيئت مديرۀ تمـــام ولايات، شـــورای عـــالی اتـــاق را تشکيل می دهد.
(۲) اعضای هيئت مديرۀ اتاق کـــه تعداد آن ۲۱ نفر می باشد، از طريق انتخابات آزاد، سری ، مـــستقيم و شفاف از ميان شورای عالی توســـط اعضای شورای عالی برای مدت سه سال انتخاب می گردد.
(۳) رئيس هيئـــت مـــديرۀ اتـــاق، معاونان، مسئول دارالانشأ و مسئول مالی از ميان اعضای هيئت مديره از طريق انتخابات آزاد، سری، مستقيم و شفاف توسط هيئت مديره بـــرای مدت سه سال انتخاب می گردنـــد. از اشخاص منتخب فـــوق کميتـــۀ اجرائيۀ اتاق تشکيل می گردد که در فاصلۀ دو اجلاس هيئت مديره امور اتاق را رهبری می کند.
(۴) شرکت های فعال تجارتی کـــه دارندۀ جـــواز تجـــارت از وزارت تجارت وصنايع و ادارۀ حمايـــت از

ملاتړد اداري (آيسا) د جواز لرونکي وي او هم داسې صنفي جوازونه چې لږترلږه د خونې يوکلن غړيتوب ولري، د خونې په ټاکنوکې چې په هرو درې کلونوکې يوځل ترسره کېږي، د رايو ورکولو حق لري.

(۵)دخونې ټولې ټاکنې، دټاکنودخپلواک کمېسيون لخوا په ولايتي او مرکزي کچه ترسره کېږي، څارل کېږي او تاييدېږي.

## دريم فصل

## د سکتوري انجمنونو او اتحاديو ثبتېدل

ثبت

دوولسمه ماده:

(۱)د سوداگرۍ ، صنعت، کرنې، دکانونو په برخه کې د پانگې اچونې او خدماتو په ځانگوکې انجمنونه او اقتصادي اتحادي کولای شي چې په خونه کې د انجمن يا اتحادېې او يا

سرمايه گذاری افغانستان (آيسا) هستند و همچنان جواز های صنفی که حداقل عضويت يک سالهٔ اتاق را داشته باشند، در انتخابات اتاق که در هر سه سال يک بار صورت می گيرد، دارای حق رأی می باشند.

(۵) تمام انتخابات اتاق در سطح ولايتی ومرکزی توسط کميسيون مستقل انتخابات برگذار، نظارت و تائيد می گردد.

## فصل سوم

## ثبت انجمن ها واتحاديه های سکتوری

ثبت

مادهٔ دواز دهم:

(۱) انجمن ها واتحاديه های اقتصادی در عرصه های تجارت، صنعت، زراعت، سرمايه گذاری در بخش معادن و خدمات می توانند در اتاق تحت عنوان انجمن يا

کوپراتیف تر عنوان لاندې ثبت شي.

(۲) خونه، ددې مادې په (۱) فقــره کې درج شوو انجمنونو او سکتوري اتحادیو ته د غړیتوب د ثبت ســند صادروي.

د ثبت غوښتنلیک

دیارلسمه ماده:

(۱) د انجمنونو او اقتصادي برخو د اتحـــادیو د ثبـــت غوښـــتنلیک، د مؤسسې ډلې لخوا چې له لسو تنـــو څخه لږ نه وي او په هېواد کې دائمي استوګنځی ولري، لاســلیک او لـــه اړوندې اساسنامې سره یـــو ځـــای، خونې ته وړاندې کېږي.

(۲)خونه د ثبـــت د غوښـــتنلیک د رسېدو له نېټې څخه حـــد اکثـــر د دېرشــــو ورځــــو مــــودې پـــه ترڅ کې د هغه د منلو یا رد په هکله خپل تصمیم ابلاغوي.

(۳) په هغـــه صـــورت کـــې چـــې غوښتنلیک د تأیید وړ وګرځي، خونه هغه ثبتـــوي او د غړیتـــوب ســـند

اتحادیه و یا کوپراتیف ثبت گردد.

(۲) اتاق، برای انجمن ها واتحادیه های سکتوری مندرج فقرهٔ (۱) این ماده ، سند ثبت عضویت را صـــادر می نماید.

درخواست ثبت

مادهٔ سیزدهم:

(۱) درخواست ثبت انجمن هـــا و اتحادیه های بخش اقتصادی توسط گروه مؤسس که کمتر از ده نفـــر نبوده و دارای اقامتگاه دایمـــی در کشور باشند، امـــضأ وهمـــراه بـــا اساسنامهٔ مربوط به اتاق ارایه مـــی گردد.

(۲) اتاق حداکثر طی مـــدت ســـی روز ازتاریخ وصـــول درخواســـت ثبت، تـــصمیم خـــویش را مبنـــی بر قبـــول یـــا رد آن ابـــلاغ مـــی نماید.

(۳) درصورتی که درخواست مورد تأییـــــد قـــــرار گیـــــرد، اتـــــاق آن را ثبـــــت وســـــند عـــــضویت

صادروي.

(۴) د اقتصادي انجمنونو او اتحاديو اساسنامه د قانون د حکمونو مطابق د هغود غړود ګټــو تنظیمــوونکې او تأمینوونکې ده.

## د ثبت د سند د بې اعتباره کېدو حالات

خوارلسمه ماده:

(۱) د ثبت سند په لاندې حالاتو کې بې اعتباره اعلامېږي:

۱- د اړوندې اساسنامې مطــابق د اقتصادي انجمن یا اتحادیې منحــل کیدل.

۲- ددې قانون او اړوندې اساسنامې له حکمونوڅخه سرغړونه.

(۲) د ثبت دسند د بې اعتباره کېدو دلایل د خونې پــه خپرونــه کــې خپرېږي.

را صادر می نماید.

(۴) اساسنامهٔ انجمن ها و اتحادیــه های اقتصادی مطابق بــه احکــام قانون، تنظیم وتأمین کنندهٔ منافع اعضای آن می باشد.

## حالات بی اعتبارشــدن ســند ثبت

مادهٔ چهاردهم :

(۱) سند ثبت درحالات ذیــل بــی اعتبار اعلام می گردد :

۱- انحلال انجمــن یــا اتحادیــهٔ اقتــــصادی طبـــق اساســـنامهٔ مربوط.

۲- تخطی از احکام این قــانون و اساسنامهٔ مربوط.

(۲) دلایل بــی اعتبارشــدن ســند ثبـــت درنـــشریهٔ اتـــاق نـــشر می گردد.

## څلورم فصل

## متفرقه حکمونه

**د کړنلارو او لایحو وضع کېدل**

**پنځلسمه ماده:**

خونه کولی شي ددې قانون د حکمونو د ښه تطبیق په منظور،کړنلارې اولایحې وضع کړي.

**د ملکیت نه پلورنه**

**شپاړسمه ماده:**

هغه ملکیتونه چې د اړوندو مراجعو او محکموله پرېکړې څخه وروسته خونې پورې اړه پیدا کوي، دپلورلو، لېږد، تعویض یا بدلولو وړ نه دي.

**انفاذ**

**اوولسمه ماده:**

دغه قانون په رسمي جریده کې له خپرېدو وروسته نافذ او په نافذېدو سره يې د ۱۳۸۸ کال دلړم د ۲۰ نېټې په (۱۰۰۲) ګڼه رسمي جریده

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

**وضع طرزالعمل ها ولوایح**

**مادۀ پانزدهم:**

اتاق می تواند به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون طرزالعمل ها ولوایح را وضع نماید.

**عدم فروش ملکیت**

**مادۀ شانزدهم:**

ملکیت های که بعد از فیصلۀ مراجع ذیصلاح و محاکم به اتاق تعلق می گیرد، قابل فروش، انتقال، تعویض یا تبادله نمی باشد.

**انفاذ**

**مادۀ هفدهم:**

این قانون بعد از نشر در جریدۀ رسمی نافذ و با انفاذ آن، قانون اتاق تجارت واحد افغانستان منتشرۀ جریدۀ رسمی

کــې خپــور شــوی د افغانــستان دسوداګرۍ د واحدې خونې قــانون ملغي ګڼل کیږي.

شمارهٔ (۱۰۰۲) مؤرخ ۲۰ عقرب ســـال ۱۳۸۸ملغـــی پنداشـــته می شود.

**د حق العبور د محصول د قانون د توشيح په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان**

ګڼه : (۸٦)

نېټه : ۱۳۹۱/۸/۲

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د (٦۴) مادې د (۱٦) فقرې د حکم له مخې، د حق العبور د محصول قانون چې د ملي شوري د مجلسينو د ګډ هيئت د۱۳۹۱/۷/۲ نېټې (۵۳) ګڼې پرېکړې په لړ کې په اوو مادوکې فيصله شوی، توشېح کوم.

دوه يمه ماده:

دغه فرمان له قانون او د ملي شوري د مجلسينو د ګډ هيئت له پرېکړې سره يوځای دې، په رسمي جريده کې له خپرېدوڅخه وروسته نافذ شي.

حامد کرزی

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

**فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح، قانون محصول حق العبور**

شماره : (۸٦)

تاريخ : ۱۳۹۱/۸/۲

مادۀ اول :

به تأسی از حکم فقرۀ (۱٦) مادۀ (٦۴) قانون اساسی افغانستان، قانون محصول حق العبور را که طی فيصلۀ شماره (۵۳) مؤرخ ۱۳۹۱/۷/۲ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی به داخل هفت ماده فيصله گرديده،توشيح می دارم.

مادۀ دوم :

اين فرمان همراه با قانون و فيصلۀ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی بعد از نشر در جريدۀ رسمی نافذ گردد.

حامد کرزی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

## دافغانستان اسلامي جمهوريت

## ملي شوري

## فيصله

## د حق العبور د محصول قانون

پرله پسې ګڼه : (۵۳)

دفيصلې نېټه : ۱۳۹۱/۷/۲

د افغانستان داساسي قانون دسلمې مادې له درج شوي حکم سره سم، د ملي شوري د دواړو غونډو له څلور څلور غړو څخه جوړ شوي ګډه هيئت د حق العبور د محصول قانون په اووه مادوکې له يو شمير تعديلونو او ايزاد سره د ۱۳۹۱ کال د تلې د مياشتې پر دويمه نېټه فيصله کړ.

د ګډه هيئت رئيس

عرفان الله عرفان

د ګډه هيئت مرستيال

جاويد رووف

## جمهوری اسلامی افغانستان

## شورای ملی

## فيصله

## قانون محصول حق العبور

شمارۀ مسلسل : (۵۳)

تاريخ فيصله : ۱۳۹۱/۷/۲

به تأسی از حکم مندرج مادۀ صدم قانون اساسی افغانستان، هيئت مختلط مجلسين شورای ملی مرکب از چهار چهار نفر از اعضای هر جرگه قانون محصول حق العبور را به داخل هفت ماده توأم با يک سلسله تعديلات وايزاد به تاريخ دوم ماه ميزان سال ۱۳۹۱ فيصله نمود.

رئيس هيئت مختلط

عرفان الله عرفان

معاون هيئت مختلط

جاويد رووف

## فهرست مندرجات قانون محصول حق العبور


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادۀ اول : | مبنی | ۱۸ |
| مادۀ دوم : | اهداف | ۱۸ |
| مادۀ سوم : | اندازۀ محصول حق العبور | ۱۹ |
| مادۀ چهارم : | مرجع جمع آوری محصول حق العبور | ۱۹ |
| مادۀ پنجم : | تجدید نظر | ۲۰ |
| مادۀ ششم : | وجوه حاصله ومصارف | ۲۱ |
| مادۀ هفتم : | انفاذ | ۲۲ |

## د حق العبور د محصول قانون

### مبني

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د (۴۲) مادې دحکم له مخې دحق العبور دمحصول د اخیستلو د اړوندو چارو د تنظیم په منظور، وضع شوی دی.

### موخې

**دوه یمه ماده:**

دغه قانون د لاندنیو موخو لرونکی دی:

۱- د حق العبور دمحصول د اړوندو چارو تثبیتول او تنظیمول.

۲- د حق العبور دمحصول د اخیستلو د ډول ټاکل.

۳-قانوني مرجع ته ئې د اخیستل شوي محصول د تسلیمولو او تحویلولو طریقه.

## قانون محصول حق العبور

### مبنی

**مادۀ اول:**

این قانون به تأسی ازحکم مادۀ (۴۲) قانون اساسی افغانستان به منظور تنظیم امور مربوط به اخذ محصول حق العبور، وضع گردیده است.

### اهداف

**مادۀ دوم:**

این قانون دارای اهداف ذیل می باشد:

۱- تثبیت و تنظیم امور مربوط به محصول حق العبور.

۲- تعیین نحوۀ اخذ محصول حق العبور.

۳- شیوۀ تسلیم و تحویل محصول اخذ شده به مرجع قانونی آن.

## د حق العبور د محصول اندازه

**درېيمه ماده:**

د تورید په وخت کې د نفتي مــوادو (پطرول او ډیزل) له في لیتــر بیــې څخه یوه افغانۍ د حــق العبــور د محصول په توګه اخیستل کېږي.

## د حق العبوردمحصول د راټولولو مرجع

**څلورمه ماده:**

(۱) دماليې وزارت دې، د دې قانون په درېیمه ماده کې درج د حق العبور محصول د ګمرکي سندونو پربنسټ، راټول کړي.

(۲) دمــــــاليې وزارت دې، د دوه اکسلو لرونکو نقلیه وسایطو د حــق العبور محــصول د افغانــستان پــه بندرونوکې د داخلیدو په وخت کې (۳۰۰) افغانۍ او د یوه اضافي اکسل په وړاندې (۱۵۰) افغانۍ واخلي.

(۳) هیڅ ډول زغره وال اوغیر زغره وال چین لرونکي وسایط په اسفالت شویوسړکونوتګ راتګ نشي کولای.

## اندازۀ محصول حق العبور

**مادۀ سوم :**

مبلغ یک افغانی از قیمت فی لیتــر مواد نفتی (پطرول و دیزل) حــین تورید، منحیث محصول حق العبور، اخذ می گردد.

## مرجع جمع آوری محصول حق العبور

**مادۀ چهارم :**

(۱) وزارت مالیه ، محصول حــق العبور مندرج مادۀ سوم این قانون را به اساس اسناد گمرکی، جمع آوری نماید.

(۲) وزارت مالیه محــصول حــق العبور وسایط نقلیه دارای دو اکسل را حین ورود در بنادر افغانــستان مبلغ (۳۰۰) افغانی و در برابر فــی اکسل اضافی مبلغ (۱۵۰) افغــانی اخذ نماید.

(۳) هیچ یکی از وسایط زرهــی و غیر زرهی چین دار از سرک هــای اسفالت شده عبور نموده نمی تواند.

بيړنی حالت لــه دې حکــم څخــه مستثني دی.

(۴) هغــه بـــاروړونکي وســـايط، چې له لويو لارو او د مـــوټر لارو د پلونو پرسر تــګ راتــګ کــوي، نشي کولای اضافي بار د هغومقررو او لايحو خلاف چې دفوايد عــامې وزارت لخوا تنظيمېږي، ولېږدوي.

نوې کتنه

پنځمه ماده:

ددې قانون په دوه يمه ماده او د درېيمې مادې په (۲) فقره کې ددرج شوي محصول اندازې د اقتصادي اوضاع له په پام کې نيولو سره د ماليې او فوايد عامې وزارتونو په وړانديز د قانون د حکمونو مطابق له احوالو سره سم نوې کتل کېدای شي.

حالت اضطرار از این حکم مستثنی است.

(۴) وسایط باربری که از شاهراه ها و پل های مسیر موتر، عبور و مرور می نمایند، نمی توانند بار اضـــافی خلاف مقرره و لوایح که از جانـــب وزارت فواید عامه تنظیم می گردد، انتقال دهند.

تجدید نظر

مادۀ پنجم :

اندازه هـــای محــصول منــدرج مـــادۀ دوم و فقـــرۀ (۲) مـــادۀ سوم ایـــن قـــانون بـــا نظرداشـــت اوضاع اقتـــصادی بـــه پیـــشنهاد وزارت های مالیه و فوائـــد عامـــه مطابق احکـــام قـــانون ، حـــسب احـــوا ل تجدیـــد نظـــر شـــده می تواند.

## لاسته راغلي وجوه اولګښتونه

شپږمه ماده:

(۱)پدې قانون کې درج لاسته راغلي وجوه، د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري قانون له حکمونو سره سم په دولتي واحد حساب کې بانک ته تحويلیږي.

(۲) د ماليې وزارت مکلف دی، د حق العبور د محصول له درکه لاسته راغلي وجوه د اسفالت شوو لويو لارو د ساتنې او څارنې، د خامه سړکونو د کرښې اچولو او ترميم، د موجودو اسفالت شوو لويو لارو د ترميم او بيا ودانولو، د نوو لويو لارو د ودانولو او اسفالت او د لويو او کوچنيو پلونو، دلويو لارو ترغاړې دحفاظتي ديوالونو او د ښارونو د خروجي او دخولي دروازو د جوړولو لپاره، د قانون د حکمونو مطابق د فوايد عامې وزارت په واک کې ورکړي.

## وجوه حاصله و مصارف

مادۀ ششم :

(۱) وجوه حاصلۀ مندرج اين قانون، طبق احکام قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه به حساب واحد دولتی تحويل بانک می گردد.

(۲) وزارت ماليه مکلف است وجوه حاصله از مدرک محصول حق العبور را جهت حفظ و مراقبت شاهراه های اسفالت شده ، جغل اندازی و ترميم سرک های خامه ، ترميم و اعمار مجدد شاهراه های موجود اسفالت شده ، اعمار و اسفالت شاهراه های جديد، اعمار پل های بزرگ و کوچک، ديوارهای حفاظتی شاهراه ها و دروازه های خروجی و دخولی شهر ها طبق احکام قانون به اختيار وزارت فوائد عامه قرار دهد.

**انفاذ**

**اوومه ماده:**

**دغه قانون په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي او په نافذېدو سره يې د ۱۳۸۷/۹/۱۳ نېټې په (۹٦۵) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د حق العبور د محصول قانون، لغو ګڼل کېږي.**

**انفاذ**

**مادۀ هفتم :**

**اين قانون از تاريخ نشر در جريدۀ رسمی نافذ گرديده و با انفاذ آن قانون محصول حق العبور،منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۹٦۵) مؤرخ ۱۳۸۷/۹/۱۳ ملغی شمرده می شود.**

## اشتراک سالانه :

در مرکز وولایات : (۹۰۰) افغـــــــانی

برای مامورین دولت : با (۲۵) فیصد تخفیف

برای متعلمـــین ومحصلین با ارائه تصدیق ،نصف قیمت

برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی

خارج از کشور : (۲۰۰) دالر امریکائی .

ISLAMIC REPUBLIC

OF

AFGHANISTAN

MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL

# GAZETTE

- **Afghanistan Chamber of Commerce and Indusries Law**
- **Law on Transit Duty**

**Date: ١٢ th NOVEMVER .٢٠١٢**

**ISSUE NO :(١٠٩١)**